# د خارجي زندانیانو د آزادولو او بېرته لېږلو سکیم - حقایق پاڼه

په دغه حقایق پاڼه کې له زندانه د آزادولو او بېرته لیږلو په هکله ځینې سکیمونه تشریح شوي دي چې خارجي زندانیانو ته راجع کیږي . د دغې حقایق پاڼې هدف دا دی چې تاسې ته د هر سکیم په هکله ابتدایي معلومات درکړل شي . د نورو تفصیلي معلوماتو لپاره تاسي باید د زندان له یوځمعمور سره او یا له یوې بلې اداري سره چې د خارجي زندانیانو د مسایلو په هکله خبر و اوسي، خبرې وکړئ .

حتا که تاسي د دغو سکیمونو له جملې نه د یوځسکیم پر اساس بېرته خپل هېواد ته و نه لېږل شئ بیا هم ښایي د خپل زندان د مودې له پوره کولو وروسته ولیږل شئ .

## د وختي آزادولو سکیم یا ERS

دوختیآزادولوسکیمیوسکیمدیچیخارجیزندانیانوتهدافرصتورکویچیدخپلزنداندمودیلهپورهکولوڅخهدمخهلهبرتانیېنهبېر تهولېږلشي .

- هرهغهخارجیزندانیچېدیوېټاکلېمودېلپارهحبسشویویبایددغهسکیمپراساسورباندېپرېکړهوشي .
- زندان به د خارجي زنداني په هکله داخله وزارت (Home Office) ته معلومات لیږي او داخله وزارت به دا فیصله کویچې دغه زنداني به د دې سکیم پر اساس خوشې کیږي او که څنګه .
- د وختي آزادولو د سکیم له مخې زنداني مستحق ګرځي چې د حبس د مودې له نیمایي نه ۲۷۰ ورځې مخکې له برتانیې نه ولیږل شي، په دې شرط چې دغه زنداني د خپل حبس د مودې لږ تر لږه څلورمه برخه په زندان کې تیره کړې وي.
- څرنګه چې د وختي آزادولو سکیم (ERS) یو داوطلبانه سکیم دی نو هغه کسان چې د بېرته لېږلو په هکله اعتراض ولري د دغه سکیم پر اساس نشي لیږل کېدای .
- هغه خارجي زندانیان چې د ERS مستحق نه دي په لاندې ډول دي :
  - هغه کسان چې پخوا د خوشې کېدلو له شرایطو نه د سرغړونې پر بنسټ زندان ته لیږل شوي وي (د مثال په توګه، په موقتي لایسنس باندې د خوشې کېدلو، په کور کې د نظر بند کېدلو له شرائطو څخه).
  - هغه زندانیان چې خپله جریمه یې نه وي ورکړې او یا د هغوی د مالونو د ضبطولو په هکله د محکمې لخوا د صادر شوي امر اطاعت یې نه وي کړی .
  - هغه زندانیان چې کله په جزا محکوم شي، یواځې ۱۴ ورځې د هغوی د جزا د نیمایي مودې پوره کېدلو ته پاتې وي .
- په استثنایي حالاتو کې زندانکولای شي چې د ERS په اساس د زندانیانو ازادول رد کړي . د دغه ډول حالاتو مثالونه عبارت دي له : د ښکاره شواهدو موجودیت چې خارجي زنداني د نورو جرمونو د مرتکب کولو قصد لري، په توقیف کې د A کلاس نشه یي مواد وکاروي، د تشدد کولو د شواهدو موجودیت او یا په زندان کې څو ځلې د تشدد د ګواښ ورکول او یا دا چې د ترهګرۍ او یا پېټرهګرۍ پورې د یو اړوند جرم لپاره محکوم شوی وي .
- که چېرې تاسې له برتانیې څخه د ERS په اساس ولیږل شئ او تاسي د خپل زندان د مودې د پوره کېدلو نه مخکې بېرته برتانیې ته راستون شئ نو تاسې بیا نیول کېدای شئ او زنداني کېدای شئ .

- حتا که ستاسي د زندان موده پوره شوې هم وي پر تاسي باندې به تر ۵ کلونو پورې برتانيي ته د داخلېدلو بنديز ولګول شي .کله چې د بنديز موده پوره شي تاسي کولای شئ چې برتانيي ته د بېرته راتګ لپاره درخواست ورکړئ خو ډېر امکا ن دا دی چې د جنايي سابقې له کبله مو درخواست رد شي .
- زندانيان کولای شي چې د ERS په اساس د دوی د ازادولو د درخواست د ردېدلو په صورت کې د زنداند شکاياتو د سيستم له لارې شکايت وکړي .
- يو زنداني د پروسې په هره برخه کې چې وغواړي کولای شي چې خپل د ERS درخواست بېرته واخلي.

د ERS په هکله نور معلومات د محبس د 04/2013 له هداياتو څخه ترلاسه کېدای شي.

## د اصغري مودې د ختمېدلو سکيم

د اصغري مودې د ختمېدلو سکيم يا TERS هغه خارجي زندانيانو ته ، چې د نا معيني مودې لپاره زندان ته لېږل شوي وي او يا په عمري قيد محکوم شوي وي (IFNPs) د اصغري مودې له پوره کېدلو سره سم او يا د اصغري مودې تر پوره کېدلو وروسته هر څومره ژر چې امکان ولري د بېرته لېږلو اجازه ورکوي .

- ټول هغه خارجي زندانيان چې په عمري قيد محکوم شوي وي (IFNPs) او بېرته لېږلو ته چمتو وي نو د مجرمينو د مديريت د ملي ادارې د عامه ساتنې د قضيو د څېړلو د څانګې (NOMS) لخوابه بررسي شي .

- TERS يو داوطلبانه سکيم دی نو هغه کسان چې د بېرته لېږل کېدلو پر فيصلې باندې اعتراض ولري د دغه سکيم پر اساس نشي لېږل کېدای.

- د عمري قيد هغه خارجي زندانيان چې د TERS پر اساس د آزاديدلو لپاره ښايي مناسب و نه ګڼل شي په لاندې ډول دي :
  - د عمري قيد هغه خارجي زنداني چې په نورو جرمونو په رسمي توګه تورن شوی وي او يا پر ضد يې په محکمه کې د هغهد مالونو د ضبطولو امر صادر شوی وي او يا وربانديې د اموالو د ضبطولو لپاره د محکمې اجراآت روان وي. ځيني کسان ښايي مستثٰنی وګڼل شي د مثال په توګه که چېرې يو زنداني خپله اوږده اصغري موده پوره کړې وي او د پور د پيسو مقدار وربانديېنسبتاً کم وي .
  - که چېرې ښکاره شواهد موجود وي چې د عمري قيد خارجي زنداني د نورو جرمونو د ترسره کولو پلان لري
  - هغه کسان چې د ترهګرۍ او يا پهترهګرۍ پورې د اړوندو جرمونو لپاره محکوم شوی وي .

د TERS په هکله نور معلومات د محبس د 18/2012 له هداياتو څخه ترلاسه کېدای شي.

## د بېرته لېږلو اعانتي سکيم يا FRS

د بېرته لېږلو اعانتي سکيم (FRS) يو داوطلبانه سکيم دی چې له مخې يې هغو کسانو ته چې بېرته خپلو هېوادونو ته ستنېږي، مالي مرسته ورکول کېږي.

- د FRS سکيم يوائې هغو خارجي زندانيانو ته راجع کېږي چې د اروپايي اتحاديې (EEA) څخه ونه اوسي .
- دغه سکيم د ERS له سکيم سره همجوار اداره کېږي ترڅو هغه کسان چې په دغه سکيم کې قبول شوي وي د هغوی د قيد د نيمايي مودې نه ۲۷۰ ورځې مخکې بېرته ولېږل شي.
- د دغه سکيم پر اساس هر هغه خارجي زنداني ته چې د بېرته لېږل کېدلو پريکړه ومني او د دې پرېکړې پر ضد خپل د اپيل کولو له حق څخه تېر شي ورته يو مقدار پيسي او په وطن کې د هستوګنځي د برابرولو لپاره مرسته ورکول کېږي.

لانديني خارجي مجرمين د FRSدسکيم مستحق نه دي :

- هر هغه خارجي مجرم چې جزا يې ۴ کاله او يا تر دې ډېره وي
- هر هغه خارجي مجرم چې پخوا يې دوه ځله د FRS لپاره درخواست کړی وي او بيا يې خپل درخواست بېرته اخيستلی وي
- هر هغه خارجي مجرم چې د بېرته لېږلو د فيصلې پر ضد د قضايي بيا کتنې (judicial review) په شمولد مهاجرت او پناهندګي د فرسټ ټيير ټرابيونل ( First-Tier Tribunal ) نه مخکې هم اپيل کړی وي . که چېرې دغه برخه تاسي ته راجع کېږي نو ښه به وي چې له خپل وکيل سره تماس ونيسئ .

| د FRS په اساس څه درکول کېږي | که چېرې تاسي په محبس کې قيد ياست | که چېرې تاسي خپله جزا پوره کړې وي |
|---|---|---|
| کله چې برتانيه پرېږدئ | ۵۰۰ پونډه | ۵۰۰ پونډه |
| کله چې تاسي خپل وطن ته ستانېږئ | ۱۰۰۰ پونډه | ۲۵۰ پونډه |

- سړي او يا ښځې چې بې له خپلو ميرمنو او يا ميړو څخه د ماشومانو پاملرنه کوي ورته به د هر ماشوم پر سر چې ورسره بېرته ستنېږي ۱۰۰ پونډه ورکړل کېږي. دا به ستاسي د تګ په وخت کې له ۵۰۰ پونډو سره يو ځای په کيش کارت کې ور اضافه کېږي.
- پيسي به په يو کيش کارت کې واچول شي . تاسي ته به په هوايي ميدان کې ۵۰۰ پونډه درکړل شي چې وطن ته د تګ په وخت کې به وايستل شي او باقيمانده پيسي به يوه مياشت وروسته له دې چې خپل وطن ته ولاړشئ په کيش کارت کې وراضافه شي .
- که چېرې د FRS پر اساس بېرته ولېږل شئ ستاسي په هېواد کې چارواکو ته به ونه ويل شي چې تاسي ته د يوځسکيم پر اساس پيسي درکړل شوي دي .
- که چېرې تاسي راضي و نه اوسئ نو هر وخت وغواړئ خپل درخواست بېرته اخيستلای شئ.
- تاسي کولای شئ چې د درخواست کولو لپاره په محبس کې له يوځمعمور څخه مرسته وغواړئ او يا په داخله وزارت کې د FRS ټيم ته په 020 8760 8513 باندې زنګ ووهئ .

- د FRS په اساس بېرته لېږل د ډيپورټ کېدلو معادل دی او دا په دې معنا ده چې په تاسې باندې به برتانيې ته پهبېرته د راتګ بنديز ويد دومره مودې لپاره چې د بېرته لېږلو په امر کې ذکر شوېوي، دا معمولاً ۵ کاله وي . حتا کله چې دبنديز دغه موده پوره هم شي ښايي ستاسې برتانيې ته د بېرته راتګ درخواست د جنايي سابقې او بد اخلاقۍ د دليلونو پر اساس رد شي.

## د زندانيانو انتقالول

که چېرې ستاسې د هېواد او برتانيې تر منځ يوه موافقتنامه لاسليک شوې وي نو بيا تاسې کولای شئ چې درخواست وکړئ چې خپل د قيد پاتې موده په خپل وطن کې تېره کړئ . دې ته د زندانيانو انتقالول وايي .

معمولاً د دې لپاره چې يو زنداني د زندانيانو د انتقال د موافقتنامې پر اساس خپل وطن ته انتقال کړای شي زنداني بايد په داوطلبانه ډول خپله رضامندي وښيي . خو، اوس له ځينو اروپايي هېوادونو سره موافقتنامې لاسليک شوې دي چې له مخې يې زندانيان خپلو وطنونو ته بې د هغوی له رضامندۍ نه لېږل کېدای شي . که چېرې داخله وزارت تاسې خبر کړي چې هغوی په دې کوښښ کې دي چې تاسې ستاسې په خپل هېواد کې يو زندان ته انتقال کړي او تاسې نه غواړئ چې ولاړشئ نو تاسې بايد په دې هکله قانوني مشورهترلاسه کړئ .

- د هغو هېوادونو ليست چې له برتانيې سره د زندانيانو د انتقالولو په هکله موافقتنامې امضأ کړې دي د محبس د 52/2011 په هداياتو کې د داوطلبانه انتقالېدلو د درخواست سره يوځای موجود دی .

- کله چې تاسې خپل هېواد ته انتقال کړای شي نو ازادېږئ نه فقط خپله د جزا موده هلته پوره کوئ .

- که چېرې غواړئ چې په داوطلبانه توګه محبس ته درخواست وکړئ چې په خپل وطن کې يو زندان ته انتقال کړای شئ نو بايد په پام کې وساتئ چې دا يوه ورو پروسه ده او په معموله توګه ۶ مياشتې نيسي نو دااکثراً ارزښت نه لري چې دا کار وکړئ بې له دې چې ستاسې د حبس موده ۴ کاله او يا تر هغې ډېره وي او لږ تر لږه ۶ مياشتې نورې پاتې وي بايد په زندان کې يې تېرې کړئ .